مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (اووه نویمه برخه)

## محمد موسی شفیق

د مولوي محمد ابراهیم کاموي زوی، په ۱۹۳۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په کابل او جلال ته نېږدې د قرآن ښوونځي او لومړني ښوونځي ته تللی دئ. له شرعي دارالعلومو څخه د مولوي په رتبې فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کې ئې د مصر د الازهر له پوهنتون څخه خپله ماستري واخیستله او تر یوهٔ فیلوشیپ لاندي ئې په مقایسوي حقوقو او اسلامي قانون کې د امریکا د کولمبیا په پوهنتون کې زده کړې وکړې. د عدلیې په وزارت کې د تقنین په ریاست کې عمومي مدیر. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د تدریسي پرسونل غړی. په ۱۹۶۱ز کال کې ئې په کابل کې لومړنی شخصي حقوقي بنسټ پرانیست. د الفلاح محرر. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د عدلیې د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د اساسي قانون په تسوید او د اساسي قانون د تصویب د لویې جرګې په سمبالولو او نظم کې ئې بنسټیزه ونډه درلودله. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت سلاکار. په ۱۹۶۸ز کال کې د قاهرې سفیر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې ئې له باندنیو هېوادونو څخه د وچکالي ځپلو لپاره د مرستې په راټولولو او جلبولو کې بنسټیزه ونډه ولوبوله. په ۱۹۷۱ز کال کې د باندنیو چارو وزیر. د ۱۹۷۲ز کال له اکتوبر څخه د داؤود تر کودتا پورې صدراعظم. په ۱۹۷۳ز کال کې له ایران سره د هلمند د اوبو پر سر د خبرو اترو او د تړون د تطبیق کارساز. د ۱۹۷۳ ز کال د جولای په میاشت کې تر ۱۹۷۶ز کال پورې ونیول سو او ورپسې په کور کې تر نظارت لاندي ونیول سو. د دري او پښتو ژبو لیکوال. لومړنی اثر ئې «سفارت، ۱۹۵۹» [1] او شعري ټولګه ئې ده. د ګڼ شمېر ورځپاڼو او مجلاتو لپاره ئې لنډ داستانونه او شعرونه لېږلي دي. راپورونه وایي چې د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې اعدام سو.

## مولوي شفیع الله

په ۱۹۴۳ز کال کې د کابل په ده سبز کې زېږېدلی دئ. دودیزې زده کړې ئې تر لاسه کړې دي. په ۱۹۷۱ز کال کې ئې په ده سبز کې یوه مدرسه پرانیستله. په ۱۹۷۳ز کال کې زنداني. سو. په ۱۹۷۹ز کال کې مجاهد سو او د ۷۰۰ تنو

[1] -Embassy, 1959



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنګیالیو بولندوی سو. په هوایي ډګر او د چنداول د پولیسو په حوزې ئـي بریدونه وکړل. د کوهٔ صافي د سیمي بولندوی دئ او د حرکت په تنظیم پورې اړه لري.

## شاه عبدالله بدخشی «یمګي»

د محمد سعید زوی په ۱۹۱۱ز کال کي د بدخشان په جرم کي زېږېدلی دئ. زده کړې ئـي لومړی په جرم کي او وروسته په کابل کي د غازي په لیسې کي ئـي وکړې. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو فارغ. د «جریدهٔ اتحاد بغلان» مدیر. په ۱۹۳۷ز کال کي کابل ته راستون سو. په ۱۹۳۸ز کال کي د صدرات عظمی کارمند. په ۱۹۴۶ز کال کي د صدارت عظمی د سکرتریت دوهمي څانګي مدیر. د اوراقو او پرسونل مدیر. د پامیري ژبو د لغاتونو او اصطلاحاتو د ټولګي او د ارمغانِ بدخشان د مجلي په ګډون د یو شمېر آثارو مؤلف. مولوي محمد قاسم «د عدلیي مرستیال وزیر» ددهٔ ورور او دی په
خپله «د اوبو او برېښنا د وزیر» منصور هاشمي خسر دئ. په ۱۹۴۸ز کال کي په کابل کي وفات سو.

## عبدالحکیم شاه عالمي

په ۱۹۰۱ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د حبیبیې په لیسې کي ئـي زده کړې کړي دي. د معارف د وزارت د تفتیش مرستیال او وروسته مشر مفتش. په ۱۹۲۵ز کال کي په روم کي د افغان دیپلوماتیک استازیتوب سکرتر او په ۱۹۲۸ز کال کي په مسکو کې. په ۱۹۲۹ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د مطبوعاتو د ریاست مأمور وو. په ۱۹۳۱ز کال کي په برلین کي د افغان سفارت دوهم سکرتر. په ۱۹۳۴ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د هندوستان او د لویدیځي اروپا د مدیریت مدیر. په ۱۹۳۸ز کال کي د مشرقي والي. په ۱۹۴۳ز کال کي د کرنـي سرپرست رئـیس. په ۱۹۴۴ز کال کي د قطغن والي. په ۱۹۴۷ز کال کي د قبائیلو د ریاست رئـیس. ویل کېږي چې صدراعظم محمد داؤود ته نـېږدې دئ. په ۱۹۵۲ز کال کي د مخابراتو وزیر. په ۱۹۵۳ز کال کي د ټولګټو/ فواید عامې وزیر. په ۱۹۵۶ز کال کي د کورنیو چارو وزیر. د ۱۹۵۶ز کال د سیپتمبر په میاشت کي شوروي اتحاد ته د محمد داؤود د لومړي سفر مل اوملګری. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۵ز کال پورې په مسکو کي د افغانستان د سفارت سفیر. په ۱۹۸۱ز کال کي په کابل کي وفات سو.

**شهباز** : وګورئ : شهباز

## محمد افضل شهیر

د حافظ نورالدین احراري زوی په ۱۹۲۷ز کال کي په هرات کي زېږېدلی دئ. لومړنی او منځنی زده کړې ئـي په هرات کي کړي دي او څلور کاله ئـي د هرات د فخرالمدارس په اسلامي پوهنتون [2] کي تحصیل کړی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کي په حکومتي کار کي شامل سو. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د هرات د مطبوعاتو د ریاست، محرر، سر محرر او مرستیال مدیر. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د هلمند د پرمختیایي پروژې مرستیال رئـیس او وروسته د مالیي له وزارت سره. لیکوال او شاعر. په ۱۹۷۸ز کال کي زنداني او ووژل سو.

---

[2] -the Islamic University, Fakhr-al-madares, Herat


افغان جرمن آنلاین په درنښت ستاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**شاه محمود** : وګورئ : غازي

**میر حسین شاه** : وګورئ : میر حسین شاه

## زمری شهید

د سردار فیض محمد خان، شهید، زوی په ۱۹۴۵ز کال کې د جلال آباد په بهسودو کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په جلال آباد کې کړې او په ۱۹۷۲ز کال کې د کابل د غازي له لیسې څخه فارغ سوی دئ. د ۱۹۷۴ زکال د جولای په میاشت کې پاکستان ته وتښتېد. واکمنۍ ته د مارکسیستانو له رسېدلو وروسته زمری شهید د صبغت الله مجددي سکرتر سو.

## عبدالله شاهنواز

د نجات د لیسې او د کابل د ښکلیو هنرو د لیسې فارغ. د استقلال په لیسې کې د انځورګرۍ ښوونکی سو. ددهٔ هنري آثار تل د کابل د سړکونو او واټونو صحنې ننداري ته ږدي.

## تورن جنرال شاه نواز

دافغان حکومت یو بریالی بولندوی. د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د مرکزي قوتونو بولندوی. په ۱۹۸۴ز کال کې ستر درستیز.

## سید احمد خان شهنور/ شاه نور

یو بهسودي هزاره دئ چې په سرِ چشمه کې زېږېدلی دئ. د افغان حکومت د «تعقیب په لیست کې» یو یاغی شخص وو چې وروسته د امیر امان الله خان له پلوه ورته عفو اوبخښنه وسوه. د حبیب الله کلکاني پر ضد ئې جګړه وکړه او د اونی کوتل ئې بند کړ او اجازه ئې ورنهٔ کړه چې هزاره جاتو ته لاسرسی ومومي. د کابل په نیولو کې ئې مرسته وکړه. نادرشاه ورته د ۱۹۳۰ په لومړیو کې د نائب سالار رتبه ورکړه. د مزار شریف والي. د «بسمه چې د رهبر» ابراهیم بیګ لاقي پر وړاندې ئې بریالۍ جګړه وکړه. د نادر شاه تر مرګ پورې زنداني سو.

**ډګر جنرال شاه پور احمدزی** : وګورئ : احمدزی

## عنایت الله شهراني

د عبادالله شهراني زوی د ۱۹۴۳ز کال د نوامبر په ۲۹ نېټه د بدخشان په شهرانِ خاص کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې د کابل له دارالمعلمینو څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د کابل له پوهنتون څخه خپل لیسانس په ښوونې او روزنې کې تر لاسه کړ. په کابل کې ئې د معارف له وزارت څخه د مشورې او لارښوونې تصدیق لیک تر لاسه کړ. په ۱۹۷۸ز کال کې ئې د «بصري هنر په ښوونه او روزنه کې» [3] خپله ماستري د اریزونا له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل د دارالمعلمینو مدرس. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د محصلینو سلاکار/مشاور. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د بصري هنر، ښوونې او روزنې او فولکور مدرس. په

---

[3] -Art Education


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۱۹۸۰ز کال کې د کابل پوهنتون د هنر د دیپارتمنت مشر. په ۱۹۸۲ز کال کې د انځورګرو د اتحادیې رئیس. انځورګر او « په افغانستان کې د بصري هنر »[4] په ګډون د یو شمیر آثارو لیکوال. په ۱۹۸۲ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته راغی او د اریزونا په پوهنتون کې د خپلې دکتورا پر سند باندې کار کوي.

## ډاکتر محمد نظیف شهراني[5]

د ګدا محمد او زیب النساء شهراني زوی د ۱۹۴۵ز کال د مارچ په ۱۵ نېټې د جرم د ولسوالی په شهرانِ خاص کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې په شهرانِ خاص کې کړې دي او ورپسې ئې د ابن سینا په منځني ښوونځي او د کابل په دارالمعلمینو کې تر سره کړې دي. په ۱۹۶۵ز کال کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې شامل سو او د ۱۹۶۷ز کال دجون په میاشت کې ورته د ختیځ – لویدیځ مرکزی سکالرشیپ د امریکا د هاوایي په پوهنتون کې ورکړل سو، په ۱۹۷۰ز کال کې ئې خپل لیسانس په انتروپولوژي کې واخیست؛ په ۱۹۷۲ز کال کې ئې ماستري او په ۱۹۷۶ز کال کې ئې خپله دکتورا په سیاټل کې د واشنګټن له پوهنتون څخه واخیستله. د هارورډ په پوهنتون کې د منځني ختیځ د مطالعاتو په مرکز کې ئې د فوق دکتورا ریسرچ فیلوشیپ [6] وکړ. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۴ز کال پورې ئې په واخان کې څېړنه وکړه. «په افغانستان کې قیرغیز او واخیان» [7] او «له تړلو سرحدونو سره سازښت یا تطابق» [8] د یو شمیر آثارو لیکوال. په ۱۹۷۷ز کال کې د «نوادا- رینو» [9] په پوهنتون کې پوهنیار. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ز کال پورې په (اوکلا) [10] کې. په ۱۹۸۳ز کال کې «پیټزر کالج» [11] کې؛ په ۱۹۸۵ز کال کې په (اوکلا) کې. (اندریو ډبلیو. میلن فیلو) [12]. له ۱۹۸۴ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د (ستن فورد پوهنتون) د (ستن فورد په بشري مرکز) [13] کې.

## نور بیا

## نعمت الله شهراني

د عبدالله شهراني زوی د ۱۹۴۰ز کال په شاوخوا کې د بدخشان په شهرانِ خاص کې

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف: لینک

---

[4] -Art in Afghanistan

[5] - ددې نوم مخې ته ئې په عربي الفباء په تېروتنې نضیف لیکلي حال دا چې دا نوم باید نظیف وي. نضیف د کثیف اونجس په معنی او نظیف د پاک په معنی ده. - ژ

[6] - Postdoctoral Research Fellowship, Center for Middle East at Harvard University

[7] -The Kirghiz and Wakhi in Afghanistan

[8] - Adaptation to Closed Frontiers

[9] -University of Nevada- Reno

[10] -UCLA

[11] -Pitzer College

[12] -Andrew W. Mellon Fellow

[13] -Stanford Humanties Center, Stanford University


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ